# د کاظم خان شیدا په شاعرۍ کښې د جمالیاتي تصّور غزونې

# The Reflections of Aestheticism in the Poetry of Kazim Khan Shaida

Mr. Muhammad Jawad*
Dr. Bushra Khatoon**

**Abstract:**

Kazim Khan Shaida is one of the prominent Pashto classical poets, belonged to the Hameed Baba's School of thoughts. He used Hindi/Indian style throughout his poetry. He is famous for representing aestheticism in his poetry. He is mostly impressed by Persian poetry; therefore, most of his poetry reflect the same genres as used by Persian poets. Kazim Khan Shaida has deeply observed and experienced beauty and idealistic ideas, transferred from Persian poetry. He is also famous for representing subjectivism and objectivism. Reflecting expressionism is one of the other specialties of his poetry. In this paper, beside this, other his specialties like Romantic terms will also be discussed and analyzed in depth.

**Keywords:** Aestheticism, Classical poetry, Subjectivism, objectivism, expressionism

د پښتو په کلاسیکي ادب کښې سدا بهار د بڼ بلبل کاظم خان شیدا هغه نازک خیاله شاعر دے چې د سبک هندي مکتب فکر پیروکار دے۔ د دې سبک له رویه شیدا جمالیاتي تصور دومره فراخه دے چې په شاعرۍ کښې ئې د جمال هر قسمه رنګونه برېښي۔

د حسن او جمال تصور دومره قدیم او لرغونے دے چې د ازل نه تر دې دمه په دې کُل کائنات کښې بلها نخښې موجودې دي چې د فطرت په قسما قسم ښیزونو کښې د ښکلا ننداره او تماشه کېږي۔ د حسن مطالعې ته جمالیات وئیلے شي۔ هغه که زمکه ده او که آسمان دے چې لوے ښکلي ښکلي غرونه کهکشانونه او دریابونه، ابشارونه او د ښکلا آهنګونه لري۔ د فطرت دغې جمال په تصور کښې په بنیادمو کښې داسې د فکر خاوندان پېدا شو چې د فطرت د حسن او جمال پحقله د یوناني دور نه راواخله تر مغربي او مشرقي

* PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar.
** Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar.

فلسفیانو رنګ په رنګ خپل تخلیقي جمالیاتي افکار پېش کړل ـ چې چا حسن او جمال موضوعي او ګڼلو او چا معروضي ـ او هم د دې نظریاتو په سبب ځینې د جمالیاتو فلسفیان د وحدتِ جمال او ځوک د اظهاریت د نظریې قائله وو چې هم دغه اثر په فنونِ لطیفه کښې هم څرګند شو او په مشرقي کلاسیکي ادبیاتو کښې د فارسي، اُردو او پښتو شاعرانو دغې افکارو له د خپل جمال تصور کښې د فن او هنر په نوي رنګ او انداز کښې دوام ورکړو ـ هم دغه رنګ د پښتو کلاسیکي شاعرۍ کښې د کاظم خان شېدا د جمال تصور د خپل شاعرانه عظمت، د خیال ندرت او نزاکت او د نازک خیالۍ په فن کښې د عالي فکر او د لوړ تخیل شاعر دے چې کلام ته ئې په نوي طرز د معنوي او صوري حسن ژورتیا وربخښلې ده ـ

د معروضي نظریې ځرکي هم د کاظم خان شېدا په کلام کښې برېښي ـ د حسن او جمال معروضي نظریې منونکي وائي چې حسن په معروض په خارج کښې دے او حسن د اشیاؤ هغه مطلق هست وجود دے چې خپل صفت پکښې د مخکښې نه موجود دے چې حسن او جمال د مشهود د صفت د جوهر نوم دے ـ دا د یو نظر یا د قلب محتاجه نهٔ دے د مثال په توګه لکه یو ګل دے یا سپوږمۍ ده نو په هغې د ښکلا خپل صفت پروت دے ځکه کتونکیو ورته د فطرت په ښکلاګانو کښې نظر راګرځي او دغه شان د مجازي حسن انسانانو عالم جماداتو او نباتاتو نه په مشهود کښې خوند او رنګ اخلي ـ

**د جمال معروضي نظریه:**

د معروضي نظریې پحقله د قدیم دور یوناني او جدید بلها فلسفیانو خپلې نظریې پېش کړې دي ـ ډاکټر اقبال نسیم خټک په خپل کتاب "خوشحال او جمالیات" کښې د یو مفکر وینا داسې بیانوي:

"حسن یا حسین شے په خپل مفهوم کښې د اول نه معروضي دے ځکه دا د یو نه بل ته رسولے شي یا پکښې د شرکت امکان کېدے شي د دې د یو ځاے نه بل ځاے ته رسېدل ابلاغ یا مشهورتیا د دې د جسماني خصوصیت نه راولاړېږي نو ځکه حسن هغه دے چې په معروضي طور سره د جمالیاتي جذبې یا جبلت تسکین کوي دا یوه تعمیري جذبه ده چې ډېر په غور و حوض سره په کار راوستے شي او دا ښکلې هم ده او وقعت هم لري ځکه چې دا په بیان کړے شوې طریقه خوشحالي بخښي ـ"(۱)

چې دغې جذبې له کاظم خان شېدا په معروض کښې خپل جمالیاتي فکر له د مجازي

حسن په لباس کښې د خپل محبوب له د افتاب د رڼا څۀ داسې ښکلا ورکړې ده:

برابـــر ورتـــه کـــتے نـــاظران نـــۀ شـــي
چـــې لبـــاس لکـــه افتـــاب هســـې زرې کـــا[۲]

د دې نـه پرتـه د شېدا پـه معروضي مجازي حسـن کښې دا شعر هم د جمال او کمال ستائينې وړ دي لکه چې وائي:

دا د خـــط جلـــوه پـــه مـــخ د دلســـتان ده
حاشـــيه کـــه پـــه نســـخه د گلســـتان ده[۳]

نو معلومه شوه چې شېدا په معروضي نظريه کښې د مجازي حسـن د فطرت د ښکلا امتزاج سره په تمثيلي انداز کښې خپل جمالياتي فکر ته زبردسته ښکلا وربخښلې ده۔

**د جمال موضوعي نظريه:**

د حسـن او جمال د موضـوعي نظريې د حسـن تصـور زړۀ د تخيـل ذهـن پـه داروملار د انسان په مشاهده کښې دے۔ په مشهود يا خارج کښې د ښکلا هېڅ وجود نشته او که ناظر يا کتونکي د خپلې جمالياتي مشاهدې په زور په معروض کښې د ښکلا څۀ هم معيار گوري نو هغه به د انسان په حواسو محسوسېږي او د هر چا جمالياتي ذوق ادراک مشاهده جدا جدا وي او دا يو شان نۀ شي کېدے او په خارج کښې د هر قسمه ښکلا نه په جدا جدا رنگ کښې د خپل زړۀ۔ د انبساط جمالياتي تسکين اخلي۔

په دې بابله د جمالياتو مفکر فلسفي اسپنوزا د حسـن نظريـه هم موضـوعي ده۔ دے حسـن د تخيـل سـره وابسـته گڼي۔ پـه دې لـړ کښـې ډاکټـر نصـير احمـد ناصـر پـه "اقبـال اور جماليات" کښې ليکي:

"اسپنوزا کا نظریہ حسن بھی موضوعی ہے لیکن وہ حسن کو تخیل کے ساتھ وابستہ سمجھتا ہے۔ میں تمھیں متنبہ کرتا ہوں کہ میں فطرت کے ساتھ نہ حسن کو نہ قبح کو نہ نظم کو اور نہ بے نظمی کو منسوب کرتا ہوں۔ چیزیں فقط ہمارے تخیل کی نسبت ہی سے حسین یا قبیح، منظم یا برہم کہلاتی ہیں۔"[۴]

نـو واضـحه شـوه چـې شـېدا هـم د حسـن موضـوعي نظريـه لـري او د دې ټـول داروملار پـه حواسـو او د زړۀ داخلـي وارداتـو بانـدې دے او دغـه داخلـي اظهـار ئـې

په کلام کښې په مختلفو زاويو کښې په مجازي حسن کښې داسې پېش کړې دے لکه چې وائي:

نېکـــــــي اصــــــلي، بـــــــدي کلمينـــــــې
زښــــتني بــــد روئـــي يـــا صـــورت مينـــې
پـــــه يـــــوه شـــــان دي دې تــــا پــــه ســـر
چـــې درتـــــه ګــــورم پــــه نــــزد د مينـــې[۵]

شېدا د موضوعي حسن په بابله خپل کلام کښې د تلميحي انداز هم خپل کړے دے او د محمود او اياز د مينې ئې په ښکلې پېرايه کښې بيان کړې ده چې تر اوسه هم چا په خپل هنر خود نوازي نۀ ده کړې لکه څنګه چې محمود غزنوي په مينه باندې اياز موقوفه او ښکاره شو لکه چې وائي:

کـــړي چـــا پــــه خپــــل هُنــــر خـــود نــــوازي ده
پـــــه محمـــــود بانـــــدې موقوفـــــه آيـــــازي ده[۶]

**د وحدتِ جمال نظريه:**

حَسن او جمال په حقيقت کښې په کُلي توګه نۀ خو موضوعي دے او نۀ معروضي او په جزوي توګه چې د دې دواړو احاطه اوشي او دواړه نظريې چې راپوځائے شي نو دې ته وحدت جمال وئيلے شي ـ لستهو ويل وائي:

"چې زمونږ په جمالياتي تجربه کښې موضوع او معروض دواړه په نۀ بېلېدونکي شکل کښې يو بل سره مربوط وي ـ"[۷]

په دې حقله ډاکټر حنيف خليل صېب "د ښکلا هنداره" کښې ليکي:

" شېدا د دواړو نظريو تائيد کوي او حسن د دواړو نظريو د ګډون نه عبارت ګڼي ځکه ئې ځينې داسې شعرونه هم وئيلي دي چې په يوځائے د دواړو نظريو تائيد اوشي او پکار هم داسې ده:

ستـــا جمـــال چــې پـــه عـــالم کښـــې بـــې نظيـــر دے

پـــــه افـــــراط د دې خوبيــــو دلپزيــــر دے

يعني د محبوب حسن چې په معروض کښې دے بې مثاله دے نو لـه دې وجې د هـر چـا د پـاره دلپزيـر دے يعنـي موضـوعي دے د دې سره سره شيدا د دې هم قائل دے چې يو څيز د بل په وجه حسين کېدے شي او د دې دعوې له مخه هر څۀ حسين دي۔

مګــــر تــــا دے آرائــــش د جمــــال کــــړے
د تمــــام ښــــار نــــن در و ديــــوار زيــــب کــــا[8]

دلته شيدا په يو بل شعر کښې هم دغه نظريه په مجازي حسن کښې څۀ داسې وړاندې کوي:

هــــر نــــاظر چــــې ننــــداره ســــتا د رخســــار کــــا
ســــتا صــــورت پــــه زړۀ کښــــې ځــــاے آئينــــه وار کــــا[9]

نو مطلب دا شو چې يو خوا حسن په معـروض کښې ښکاري او بـل خـوا پـه جماليـاتي مشاهده په موضوعي کېفيت دلالت کوي۔ نو د دې بحث په نتيجه کښې ثابته شوه چې شېدا په شاعرۍ کښې په مجازي حسن کښې د نسواني حسن او ښکلا په احاطه کولو سره د وحدت جمال نظريې هم قائله دے او مني او د محبوب د حسـن د ارائش او زيبـائش پـه ښـکلي انداز کښې اعتراف ئې هم کړے دے۔

**د جمال اظهاريت نظريه:**

حسن او جمال په حجابونو کښې نۀ شي پټېدے۔ دا پـه هر صورت او حالت کښې د نمود او اظهار تقاضه کوي چې په دې کُل کائنات، فطرت او د قدرت په ښکلا کښې د انسان په جمال کښې د حسن ظهور کېږي۔ چې حديث شريف دے:

"كُنتُ كَنزاً مَخفِيّاً ، فَأَحبَبتُ أن أُعرَفَ ، فَخَلَقتُ الخَلقَ."[10]

ژباړه: "زۀ پټه خزانه ووم ما اوغوښتل چې اوپېژندے شم (ښکاره شم) نو مخلوق مې پېدا کړو۔"

د اظهاريت نظريه په فلسفيانو کښې د جرمني د جمالياتو عالم بام ګارټن او د اټلي کروچے هم پېش کړې ده او د دغه نظريې واضحه تشريح ئې کړې ده ـ په دې بابله ايم ايم شريف ليکي:

"کروچے کا نظریہ اجمالی طور یہ ہے کہ حسن در حقیقت اظہار کا نام ہے عموماً یہ سمجھا جاتا ہے کہ حسن ایک ایسی صفت ہے جو اس قسم کی اشیاء میں پائی جاتی ہے جیسے کوہ سار، تصاویر، مجسمے، تنظیمیں اور گیت وغیرہ لیکن یہ خیال غلط ہے۔ حسن اس شخص کے تجربات ذہنی کی ایک صفت ہے جو مندرجہ بالا اشیاء کو خوب صورت قرار دیتا ہے۔ یہ صفت بنیادی طور پر اظہار کی ذہنی فعالیت ہے۔"(۱۱)

شېدا د جمال نظريه اظهارت له چې شېدا د حسن پحقله د خپل کامل اظهار څرګندونه په مختلفو زاويو کښې ښکلې رنګه کړې ده ـ

اصل کښې ښکلا د تناسب او موزونيت اعتدال نوم دے ـ که دغه کرښې رنګونه بې ترتيبه شو ـ تناسب ترې اووتو نو ښکلا ترې ختمه شوه ـ دغه شان د شاعر په شاعرۍ کښې چې قافيه رديف، بحر، وزن بې ترتيبه شي نو ښکلا ترې ختمه شي او که چرې ترتيب او توازن کښې راغلۀ نو ښکلا ئې برابر شوه او دغه شان د موسيقار د ګوتو راګونو کوم د زير او بم تناسب ترې اووتو نو ښکلا ترې ختمه او بيا دغه موسيقۍ نه شوه ـ

د قرآن نقطه نظر هم د ښکلا او موزونيت په واضحه ډول بيان کړے دے او د يونان فلسفيانو کښې ارسطو هم د اعتدال او تناسب دغه نقطه نظر دے ـ جمالياتي کامل اظهار د فن په ښکلا کښې شېدا داسې کوي:

ورښـــکاره د بُـت فـــي الحـــال زيبـــا جمـــال شـــي
چـــې پـــه زړۀ اوخـــوري غمونـــه نمايـــان غـــر(۱۲)

مطلب دا چې ګټه يا غټ کمر د سنګتراش په چڼۍ يا سټک وهل اوخوري نو د دې اصل جمال راښکاره شي او يوه ښکلې مجسمه ترې سازه شي ـ کله چې د فنکار هغه جمالياتي وجدان ځان راښکاره کول اوغواړي د هغې کامل اظهار په فن کښې په ترتيب او

توازن سره اوشي ـ

**د حسن حرکي او ارتقائي نظريه:**

حسن حرکي دا خالص اسلامي نظريه ده او په حقيقت کښې ابديت لري او هره ورځ په نوي نوي رنګ او صورت کښې ظاهرېږي بدلېږي رابدلېږي ـ د دې نظريې تر مخه حسن جامد او ساکن نهٔ شي کېدے ـ دا به مسلسل په حرکت کښې وي او دواميت به لري او مخ په وړاندې به ځي تر څو چې په کائنات کښې د ازل نه تر ابده پورې دا سلسله قائمه وي نو حسن مطلق به په اضافي اعتبار سره په فطرت کښې په نوي نوي رنګ او صورت کښې ظهور کوي ـ لکه شېدا چې د حسن حرکي د لون لون قسما قسم رنګا رنګي د رنګونو د سحر او مابنام بدلېدو پحقله وائي:

تلـــــون ئـــــې د مـــــزان دے شـــــام او صـــــبح
خـــاص و عـــام تـــه ښـــکاره وضـــع د اســـمان ده[۱۳]

د حسن حرکي او ارتقائي نظريې پحقله د قرآن حکيم دا آيت لوے دليل دے:

"كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ ۝٢٩ "[۱۴]

ژباړه: "هغه يعني حسن مطلق هره لحظه نوے نوے شان (مسلسل حرکت ارتقائي) کښې وي ـ"

نو ثابته شوه چې ژوند حسن مسلسل په حرکت کښې دے او کاظم خان شېدا هم د قرآن د جمالياتي تصور د نوي نو شان نظريې د ظهور قائله دے:

هـــــــره ورځ ورق ګـــــــردان ئـــــــې
مختـــــــرع د نـــــوي شـــــان ئـــــې[۱۵]

يعني هغه ذات حق هره ورځ په ورق ګردانۍ کښې مصروف او هره لمحه کښې په نوي نوي شان کښې جلوه افروز دے ـ

**د شېدا بُوقلموني رنګارنګي:**

د کائنات په مختلفو څيزونو او رنګونو کښې امتزاج او تضاداتو ته بوقلموني رنګارنګي وئيلے شي لکه مثال په توګه د موسيقۍ په مختلفو سرونو او سازونو د امتزاج نه

چې کومه نغمه جوړېږي او يا دغه شان د مختلفو رنګونو امتزاج نه چې کوم حسن او ښکلا په فطرت کښې تخليق کېږي هغه حسن دے لکه اووۀ رنګونه دي هر يو خپله خپله ښکلا لري او داسې په کائنات کښې مختلف غرونه چې ځينې شنۀ او ځينې سپېرۀ خړ پړ دي ـ داسې دا ځناور، مېوې، ګلونه او قسما قسم حېوانات، نباتات دا ټول د کائنات د ښکلا رنګا رنګي او بوقلموني ده ـ په دې حواله نصير احمد ناصر ليکي:

*"اس میں کوئی شک نہیں کہ یہ کائنات تضاد و تخالف کے رنگ سے مزین ہے اور مختلف و گوناگوں تصویروں کا مرقع ہے لیکن غور سے دیکھیں تو اس کے ہر تضاد و تخالف میں وحدت پائی جاتی ہے۔ جس کی وجہ سے تمام متضاد و متخالف اشیاء میں اور اضافی حیثیتوں میں تناسب و ہم آہنگی پائی جاتی ہے اور اسی میں اس کے حسن کا راز پنہاں ہے۔ اس ہم آہنگ بوقلمونی کی حیثیت چونکہ وحدت تضاد و تخالف ہے۔"*(۱۶)

کاظم خان شېدا هم د مختلفو رنګونو رنګا رنګي په خپله شاعرۍ کښې ډېره په ښکلې پېرايه کښې رانغښتې ده ـ

هـــــر ورق ئــــې ګونـــــاګون دے
هـــر مضـــمون ئـــې بوقلمـــون دے "(۱۷)

"وَمَا ذَرَاَ لَکُمۡ فِی الۡاَرۡضِ مُخۡتَلِفًا اَلۡوَانُہٗ ؕ" (النحل:آيت: ۱۳)

ژباړه:"خالق تاسو د پاره په زمکه کښې هر څۀ د مختلفو رنګونو د امتزاج نه پېدا کړي دي ـ"

د دې نه علاوه د شېدا په کلام کښې د فطرت حسن په مختلفو رنګونو امتزاج کښې د بهار سپرلي ګلونو موسمونو دغه ښکلا بوقلموني به هم دلته اوځيرو ـ لکه چې وائي:

بــــــاغ او راغ د دې بهـــــــار بوقلمـــــــون دي
مهيـــــا کښـــــې عجـــب نقـــش و نګــــار (۱۸)

## جمالياتي حِسي مشاهدات:

د حسن د ادراک کولو او حاصلولو د پاره قدرت بنيادم ته ظاهري حواس خمسه ورکړي دي او د دې په ذريعه په معروض کښې ښکلا محسوسوي او د هر قسمه ښکلا مشاهده پرې کوي جمالياتي حِس د ټولو انسانانو يو شان دے خو جمالياتي ذوق ئې جدا جدا

وي۔ حقیقت دا دے چې د حسن ادراک د پاره خاص حِس مقرر نهٔ دے او د ظاهري حواسو خمسه نه په خارج کښې د مختلفو اشیاؤ د ښکلا صفات او خصوصیات معلومولے شي او په مختلفو ځیزونو کښې د ښکلا خاص صفت او خصوصیت د شاهد کتونکي د حسن ادراک په مشاهده سره کېږي او په دې ضمن کښې د باصري سامعي نسبتاً اهم برخه ادا کوي او شامه لامسه او ذائقه حس نه هم خپله ظاهري جمالیاتي مشاهدو تر سره کوي او شپږم حِس د زړهٔ بصیرت دے چې په دې موضوعي روحاني او باطني مشاهده کېږي۔ په فطرت کښې د حسن و جمال د پاره یو فنکار د جمالیاتي حواسو په واسطه سره څنګه مشاهده کوي۔ په دې حواله تهامس ریډ څهٔ داسې وائي:

''وہ تمام اشیاء جنھیں ہم خوبصورت کہتے ہیں دو باتوں میں متفق ہوتی ہیں اور یہ باتیں ہماری حس حسن میں ایک ساتھ وقوع پذیر ہوتی دکھائی دیتی ہیں اولاً جب انھیں مشاہدے یا تخیل میں لایا جاتا ہے تو وہ قلب میں ایک خوشگوار جذبہ یا احساس پیدا کرتی ہیں۔ اور ثانیاً اس خوشگوار جذبے کی معیت میں اس بات کی رائے یا اتفاق ہوتا ہے کہ وہ چیزیں کسی نہ کسی کمال یا خوبی کی حامل ہیں جو اِن کی ملکیت ہیں۔''(۱۹)

نو څرګنده شوه چې حسن په ټولو ځیزونو کښې او په مجاز کښې موجود دے خو د دې د پاره وینښه جذبه او ژوندے د ښکلا حِس او مشاهده پکار ده په دې ضمن کښې د کاظم خان شېدا جمالیاتي حِس او مشاهده هم ډېره ژوره باریک بینه ده چې په کلام کښې د پینځهٔ واړه ظاهري حواسو په ذریعه جمالیاتي ظاهري مشاهداتو نه کار اخستے دے چې دغه ذکر ئې څهٔ په دې ډول وړاندې کولے شي۔

**بصري مشاهده:**

شېدا د خپل جمالیاتي حِس باصري په ذریعه د مجازي حسن مشاهده کوي او د خپل قوتِ مدرکه ظاهري حواسو په ښکلي آواز سره د ښکلي مخ حسن مدحه او د غزاله سترګو شوخۍ د دیدار نه خپل جمالیاتي تسکین داسې اخلي لکه چې وائي:

بیا ئې کاندي ناظران د حسن مدحه
ګا و دیده به ئې په خوان ګا و زبان شي(۲۰)

**مشامي مشاهده:**

د شامي حِس په ذريعه د فطرت حسن او ښکلا سره د ګل خوشبو مشاهده کوي او لکه د ګلو د عنبرو پرې خپله حِس شامه معطر ساتي او جمالياتي انبساط ترې حاصلوي ـ

همګـــي پـــه بـــوي د ګلـــو عنبـــر ســـائي
احتيـــاج ئـــې هـــر ګـــز نشـــته د عطـــار[۲۱]

**ذوقي مشاهده:**

د ذائقې حِس په ذريعه د هر قسمه څيزونو په څکلو سره د تريخوالي او خوږوالي او پيکه والي د خوند جاج اخستلے شي ـ دلته د شېدا جمالياتي ذوقي مشاهده د لبو خوند ، د ګل شکر او شکر خند ګڼي او د لبانو د سرخۍ د مېګونۍ نشه په شرابو غالبه شوې ده لکه چې وائي:

دا دي غونچـــه د هـــان د لبـــو خونـــد دے
ګـل شـکر کـه نيشـکر، کـه شـکر خنـد دے[۲۲]

**سمعي مشاهده:**

د سمعي حِس په ذريعه د هر قسمه د ښکلي او قبيح اوازونو جمالياتي مشاهده کېږي ـ شېدا د سمعي صوتي مشاهده کښې د موسيقۍ حسن سره د ښکلي آواز داسې ستائيلے دے:

مُغنـــي کـــا دوبـــالا نشـــه د مېـــو
چـــې مســـتان کښـــېني د بـــزم اراســـتن تـــه[۲۳]

**لمسي مشاهده:**

د لمسياتي کېفيات هم د جمالياتو يوه ډېره زبردسته اصطلاح کښې راځي ـ د لمس په ذريعه د مجازي حسن او ښکلا نه خوندونه اخستلو ته لمسياتي کېفيات وئيلے شي ـ د شرنګار رس لمسياتي کېفياتو ذکر د شېدا په شاعرۍ کښې ډېر په زړهٔ راښکونکي انداز کښې ننداره کېږي چې د ښکلي عاشق او معشوق د وصال خوشحالۍ او د مېګونۍ لبانو نه بوسه اخستلو په وخت د جمالياتي حظ او خوند اخستلو او مسرور کېدلو ذکر داسې کوي:

کـه پـه لـب بانـدې ئـې خپـل مېګـون لبـان ږدي

زر بــه باســم د هــر حبــاب نګــون ايــاغ شـــي [۲۴]

**جمالياتي ذوق:**

جمالياتي ذوق يو اکتسابي او انفرادي خصوصيت لري او دا په معروض کښې د مختلفو رنګونو ښکلا نه هر سړے د خپل ذوق تسکين اخلي ـ که يو اړخ ته د ټولو انسانانو جمالياتي حِس يو شان او وهبي دے نو بل اړخ ته د مختلفو خلقو او قومونو ذوق د يو بل نه په جغرافيائي لحاظ سره مختلف او جدا دے او دا د هر ځائے خپل تهذيبي او کلتوري ماحول اثرات وي چې د هغې په وګړو کښې د ذوق جمال په مختلفو شکلونو کښې د حسن احاطه کېږي او معيار ئې ټاکلے شي ـ

دغه رنګ کاظم خان شېدا هم حسن پرست شاعر دے او د خپلې ژورې مشاهدې په سبب د ذوق جمال ننداره په مجازي حسن کښې لکه د سپوږمۍ په شان د ښکلي مخ په تماشه بار بار په ديدن ئې نۀ مړيږي ـ

چــې پــه ديــدن د زيبــا مــخ ســترګې مړيــږي
د آفتــاب پــه چشــمه خــوا د چــا ســړيږي [۲۵]

شېدا جمال په ننداره په ځير ځير کتلو سره داسې نشه نشه شي چې د ښکليو د ناز او ادا کښې داسې د تمکنت طلبګار شي چې د شوخۍ او ښائست نه ئې خوند داسې اخلي لکه چې وائي:

و جمــال تــه دې شــېدا پــه ځيــر ځيــر ګــوري
حوالــه د خــرام کــار پــه ډيــر تمکيــن کــړه [۲۶]

**جمالياتي حظ او مسرت:**

د کائنات په مادي معروضاتو کښې چې څومره هم د حسن او جمال رنګ موجود دے نو دا ټول د انساني حواسو د پاره جمالياتي حظ او مسرت روح ته يو جمالياتي انبساط رسي او د خپل کيف او سرور ترې بې اختياره حاصلوي ـ

شېدا په فطري حسن کښې د خپل جمالياتي تجربې په بنياد خپل جمالياتي حِظ او مسرت څۀ داسې حاصلوي او د سپرلي په موسم کښې د جمال ښکلي منظر نه داسې

کېف او سرور اخلي:

ورځ د بسنت ده وریځ ده ګوره
و برېښي ته ځوله رام پوره
ګویا زعفران دي دا زیړ ګلونه
چې بهر مند یو نن له سروره(۲۷)

لکه څنګه د فطرت حسن کښې د بهار راتلو سره رنګا رنګ ګلونو جشن نوروز په ایران افغانستان سیمو کښې نمانځلے کېږي او دلته پښتونخوا کښې د سپرلي په خوشحالۍ کښې مشاعرې کېږي دغه شان په هندوستان کښې د بسنت جشن وي. شېدا د دغې فطري حسن د بهار بسنت په راتلو سره د خوشحالۍ اظهار کوي. او د خپل زړۀ انبساط ترې څۀ داسې اخلي.

بږ بږ راشه بسنت راشه د بهار تازه بسنته
تا نشاط راوړ هر دشت و هر چمن ته(۲۸)

**جمالیاتي حېرت:**

تحیّر یا حېرت د مشرقي هندوستاني جمالیاتو یوه اصطلاح ده او دا د یو خپل اهمیت لري. دې ته اوبهت رس تحیر وئیلے شي. او د دې دارومدار په موضوعیت او معروضیت باندې رجحان لري. په دې کل کائنات عالم مجاز کښې د قدرت د فطرت حسن د مختلف ښکلي مناظرو ته په ننداره کېدلو سره بنده ته کومه حېراني محسوسېږي او یا په انساني کېفیت طاري کېږي نو دغه جمالیاتي حېرت بللے شي.

شېدا د جمالیاتي حېرت لوے شاعر دے او د اوبهت تحیر تجربو د پاره ئې د خپلې ژورې جمالیاتي مشاهدې په مدد سره په کلام کښې یو داسې د جمالیاتي حېرت رنګ راپېدا کړے دے چې د دغې حېرت او تحیر و طلمسي کېفیتونو د شېدا کلام ته لوے عظمت وربخښلے دے. څکه خو بیا دلته شېدا د جمالیاتي حېرت آرزو مند دے.

چې مژګان مې د جوهر حکم پېدا کا
هر نفس لکه مرأت حېران چشمان را(۲۹)

او بیا شېدا په شاعرۍ کښې د جمالیاتي حېرت څهٔ داسې څرګندونه کوي چې آئینه خو سراپه د حېرت سترګې اونیولې چې کله ورته ښکلي محبوب خپل مخ په مقابل کښې مخامخ کړو۔

آئینـــه شـــوه ســـراپا د حېـــرت ســـترګې
تـــا چـــې مـــخ ورتـــه نیـــولے مقابـــل دے[۳۰]

**جمالیاتي یاد:**

جمالیاتي یاد د جمالیاتو یوه اصطلاح ده کله چې یو عاشق د خپل محبوب ښکلے ناز او ادا او داسې نور یاد چرته په څهٔ ښکلي یادګاري څیزونو کښې مطلب ښائسته لباس، خوشبو یا په فطرت کښې د ګلونو مسکا یا داسې بل ښکلے جمالیاتي منظر د شپې په څوارلسمې سپوږمۍ کښې اووینې او دې سره ورته د خپلې معشوقې یاد تازه شي نو جمالیاتي یاد بللے شي۔

کاظم خان شېدا دغه یاد د محبوب په سپین مخ تار تار مشکین ګېسو خوشبودارو زلفو سره د فطرت ښکلا په چمن کښې د څلورو واړو د ګل شب خوشبو داسې یادوي:

تـــار پـــه تـــار پـــه ســـپین مـــخ مشـــکین ګېســـو کـــا
راتـــه یـــاد د چـــار چمـــن ګـــل شـــب بـــو کـــا[۳۱]

کاظم خان شېدا دلته جمالیاتي یاد په یو بل رنګ او انداز کښې کوي او د دې د پاره د نرګس د ګل سهاره اخلي او د ګل په مشاهده کښې ورته د خپل جانان سترګې یادېږي او د نرګس سترګې ځکه ئې د هر چانه اوچتې او هسکې ګڼي۔

چـــې مثـــال پکښـــې مونـــدهٔ شـــي ســـتا د ســـترګو
د نـــرګس ســـترګې لا هســـکې تـــر هـــر چـــا شـــوې[۳۲]

# حوالې

1) ډاکټر اقبال نسيم خټک، "خوشحال او جماليات"، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، اول ځل، ۱۹۸۷ء، مخ ۱۰۹

2) کاظم خان شېدا، "د کاظم خان شېدا ديوان" تدوين: حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء، مخ ۹۹

3) همدغه اثر، مخ ۱۷۵

4) ڈاکٹر نصیر احمد نصیر، "اقبال اور جمالیات"، اقبال اکادمی پاکستان، 114 میکلوڈ روڈ لاہور، طبع اول، 1981ء، ص98-99

5) کاظم خان شېدا، "د کاظم خان شېدا ديوان" تدوين: حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء، مخ ۴۱۱

6) همدغه اثر، مخ ۱۷۴

7) ډاکټر اقبال نسيم خټک، "خوشحال او جماليات"، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، اول ځل، ۱۹۸۷ء، مخ ۲۳۸

8) حنيف خليل، "د ښکلا ننداره"، دانش ختب خانه ډهکي نعلبندي، قصه خوانۍ پېښور، ۱۹۹۸ء، مخ ۳۴

9) کاظم خان شېدا، "د کاظم خان شېدا ديوان" تدوين: حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء، مخ ۱۱۰

10) نصیر احمد ناصر، "جمالیات قرآن حکیم کی روشنی میں"، مجلس ترقی ادب لاہور، 2016ء، ص۱۴۸

11) میاں محمد شریف، "جمالیات کے تین نظریے"، مجلس ترقی ادب 2 کلب روڈ، لاہور، طبع اول، دسمبر 1963ء، ص67

12) کاظم خان شېدا، "د کاظم خان شېدا ديوان" تدوين: حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء، مخ ۱۲۲

13) همدغه اثر، مخ ۱۷۵

14) نصیر احمد ناصر، "جمالیات قرآن حکیم کی روشنی میں"، مجلس ترقی ادب لاہور، 2016ء، ص57

15) کاظم خان شېدا، "د کاظم خان شېدا ديوان" تدوين: حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء، مخ ۵۱

16) نصیر احمد ناصر، "تاریخ جمالیات"، (جلد اول)، مجلس ترقی ادب 2 نرسنگ داس گاڈینز کلب، روڈ لاہور، س ن، ص۲۵۶

17) کاظم خان شېدا ، "د کاظم خان شېدا دیوان" تدوین: حنیف خلیل، دانش خپروندویه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء ، مخ ۵۱

18) همدغه اثر، مخ ۳۲۲

19) نصیراحمد ناصر،"تاریخ جمالیات"،(جلد اول)، مجلس ترقی ادب 2نرسنگ داس گاڈینز کلب، روڈ لاہور، س ن، ص398

20) کاظم خان شېدا ، "د کاظم خان شېدا دیوان" تدوین: حنیف خلیل، دانش خپروندویه ټولنه کابل، دوېم چاپ، ۲۰۱۵ء ، مخ ۲۴۲

21) همدغه اثر، مخ ۳۲۵

22) همدغه اثر، مخ ۲۵۷

23) همدغه اثر، مخ ۱۷۰

24) همدغه اثر، مخ ۲۴۳

25) همدغه اثر، مخ ۲۳۷

26) همدغه اثر، مخ ۱۸۲

27) همدغه اثر، مخ ۳۵۹

28) همدغه اثر، مخ ۱۲۹

29) همدغه اثر ، مخ ۹۵

30) همدغه اثر ، مخ ۲۲۲

31) همدغه اثر ، مخ ۱۰۹

32) همدغه اثر، مخ ۲۸۲


**Refrences**


1) Dr, Iqbal Naseem Khattak, "Khushal Or Jamaliyat", Pakhto Academy, Pekhawar University, (Awal Jild), 1987, Makh.109
2) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 99
3) Humdagha Asar, Makh. 175
4) Dr. Naseer Ahmad Nasir "Iqbal or Jamaliyat", Iqbal Academy Pakistan, 114 Meclord Road Lahore, Taba Awal, 1981, Safa, 98-99
5) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 411
6) Humdagha Asar, Makh. 174
7) Dr, Iqbal Naseem Khattak, "Khushal Or Jamaliyat", Pakhto Academy,

Pekhawar University, (Awal Jild), 1987, Makh.238
8) Hanif Khalil, "Da Khkula Nandara", Kutab Khana, Daki Nalbandi, Qissa Khwani Pekhawar, 1998, Makh 34
9) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 110
10) Naseer Ahmad Nasir, "Jamaliyat Quraan Hakeem Ki Roshni May", Majlis Taraqqi Aadab Lahore, 2016, Safa 148
11) Mia Muhammad Sharif, "Jamaliyat Kay Teen Nazriey", Majlis Taraqi Adab, 2 Club Road Lahore, (Tabal Awal), December, 1963, Safa 67
12) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 122
13) Humdagha Asar, Makh 175
14) Naseer Ahmad Nasir, "Jamaliyat Quraan Hakeem Ki Roshni May", Majlis Taraqqi Aadab Lahore, 2016, Safa 57
15) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 51
16) Naseer Ahmad Nasir, "Tareekh e Jamaliyat", (Awal Jild), Majlis Taraqqi Adab, 2 Nursing Das Gadins Club, Road Lahore, Safa 256
17) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 51
18) Humdagha Asar, Makh,326
19) Naseer Ahmad Nasir, "Tareekh e Jamaliyat", (Awal Jild), Majlis Taraqqi Adab, 2 Nursing Das Gadins Club, Road Lahore, Safa 398
20) Kazim Khan Shida, "Da Kazim Khan Shaida Dewan", Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolna, Kabul, (Dwaim Chaap), 2015, Makh. 246
21) Humdagha Asar, Makh 325
22) Humdagha Asar, Makh 257
23) Humdagha Asar, Makh 170
24) Humdagha Asar, Makh 243
25) Humdagha Asar, Makh 237
26) Humdagha Asar, Makh 186
27) Humdagha Asar, Makh 359
28) Humdagha Asar, Makh 169
29) Humdagha Asar, Makh 95
30) Humdagha Asar, Makh 266
31) Humdagha Asar, Makh 109
32) Humdagha Asar, Makh 286